كله چې رمضان راشي، نو عمره وکړه، ځکه په رمضان کې عمره (په ثواب کې) د حج سره برابره ده

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم د انصارو يوې ښځې ته وفرمايل چې ابن عباس يې نوم واخيست او زما څخه يې نوم هېر شو: «څه شي منع کړې چې زمور سره حج وکړې؟» هغې وويل: مور يوازې دوه اوښان درلودل نو خاوند او زوي يې په يوه اوښ حج ته لاړل او بله اوښه يې مور ته پرېښوده چې اوبه پرې راوړو، هغه وفرمايل: «کله چې رمضان راشي، نو عمره وکړه، ځکه په رمضان کې عمره (په ثواب کې) د حج سره برابره ده».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له حجة الوداع څخه راستون شو نو يوې انصارې ښځې ته يې وويل چې حج يې نه و کړی: څه شي منع کړې چې مور سره حج وکړې؟ نو هغې عذر وراندې کړ چې دوي دوه اوښان درلودل، نو خاوند او زوي يې په يوه باندې حج وکړ او بل يې له ځاه ځخه د اوبو راوښتلو لپاره پرېښود. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکړ چې د رمضان په مياشت کې عمرې ثواب د حج له ثواب سره برابره دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/2753

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee